**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د غزې د جګړې جیوپولیټیک تحلیل

جیوپولیټیک د ملي دولتونو ترمنځ اړیکو باندې بحث کوي. په ځانګړې توګه دا چې ملي دولتونه څنګه په نړیوال ډګر کې ځان ځایوي؛ د خپل قوت له ټکو کار اخلي او کمزورۍ یې پټوي چې پر نورو واک ولري او خپلې ملي ګټې خوندي کوي.

جیوپولیټیکي تحلیل په دغه نړیوال ډګر کې تحولات څېړي او له دې لارې تشریح کوي چې دا تحولات ولې راځي او د نړیوال قدرت پر توازن څه اغېز کوي.

جیوپولیټیکي تحلیګران د فکري تحلیل یو ډېر پېچلی ډول ترسره کوي؛ ځکه چې په جیوپولیټیکه حوزه کې ملي دولتونه هڅه کوي چې خپل عملونه او یا د دغو عملونو تر شا انګېزه پټه کړي. نو تحلیل کوونکی باید یوازې له سیاست او ډیپلوماسۍ نه؛ بلکې له بېلابېلو برخو لکه اقتصاد، جغرافیې، ډیموګرافۍ (نفوس پېژندنې)، ټولنپوهنې، ټکنالوژۍ او تاریخ څخه ډېر وخت معلومات راټول کړي؛ بیا فرضیه داسې جوړه کړي چې د معلوماتو ټولې ټوټې یو ځای کړي؛ لکه یوه معما چې حلوي.

د پیغمبر صلي الله علیه وسلم په سنتو کې ګورو چې جیوپولیټیک تحلیل له ډېرو مهمو تحلیلونو څخه دی. هغه صلی الله علیه وسلم د مسلمانانو د سیاسي او معنوي رهبر په توګه د مسمانانو د دښمنانو په اړه د معلوماتو دوامدار راټولول تنظیمول. داسې چې هغه صلي الله علیه وسلم به پوهېده چې څه کېږي او ولې کېږي؛ په دې توګه به یې پر وړاندې جیوپولیټیکي سټراټیژۍ جوړولې چې د مسلمانانو او اسلام ګټې خوندي کړي. د دې بېلګې ډېرې دي؛ لکه دا چې هغه صلی الله علیه وسلم د احد تر غزا وروسته سعد بن ابي وقاص رضي الله تعالی عنه ته لارښوونه وکړه: «د هغوی د خوځښتونو په اړه خبرونه راته راوړه. که د اسونو پر ځای پر اوښانو سپاره وي، ښیي چې د تګ هوډ یې کړی. خو که د اوښانو پر ځای پر اسونو سپاره وي، په ډېر احتمال چې پر مدینې د برید پلان لري. پر هغه ذات قسم چې زما روح یې په واک کې دی، که هغوی د مدینې خواته حرکت وکړ، وړاندې ورځم او ورسره جنګېږم.» (له الواقدي څخه په کتاب المغازي کې روایت شوی).

نو خورا اړینه ده چې د غزې د جګړې په اړه یو ژور درک رامنځته شي او په دې توګه یې پر وړاندې تر ټولو مناسبه جیوپولیټیکه سټراټیژي جوړه شي.

د غزې د جګړې تاریخي زمینه: صهیونیستي خوځښت او د «اسرایلو» دولت د جوړولو لپاره نړیوال ملاتړ.

ټولو ته ښکاره ده چې؛ سره له دې چې ډېرى وخت د غربي سياسيونو او جيوپوليټيکي تحليلګرانو لخوا له پامه غورځول کېږي، خو د غزې اوسنۍ جګړه يوه ځانګړې او بېله پېښه نه ده.

په ۱۹۴۸م کال کې د «اسرايلو» دولت د تشکيل تر اعلان وروسته، غزه د هغو فلسطيني بې ځايه شوو په يوه اصلي کمپ بدله شوه چې د صهيونيستي ترهګرو ډلو د زور له ګواښ سره مخ و او خپل کورونه يې پرېښودل. اټکل کېږي چې له ۱۹۴۸-۴۹ پورې شاوخوا ۲۰۰ زره فلسطينيان، چې هغه وخت د فلسطين د عرب نفوس شاوخوا ۲۵ سلنه کېدل، له ۱۴۴ فلسطيني ښارونو او کليو څخه غزې ته پناه يوړه. له دې سره غزه د نړۍ په يوه ډېره ګڼ نفوسه سيمه بدله شوه چې په هر کيلومتر مربع کې يې ۱۸۰۰ کسان اوسېدل. وروسته په ۱۹۵٦ کې د سوئز ناورين پر مهال «اسرايلو» پر غزې نظامي بريد وکړ او تر ۱۹۵۷ پورې يې اشغال کړه. په ۱۹٦۷ کې يې بيا بريد وکړ او دا ځل يې تر ۲۰۰۵ پورې اشغال کړې وه. له هغې راهيسې، غزه د اسرايلي پوځ تر محاصرې لاندې ده؛ دغې سيمې ته يې د توکو راوړل او د خلکو تګ راتګ سخت محدود کړی. اسرايلي پوځ په غزه کې د کالوريو د مصرف ورځنۍ کچې له محاسبې کار واخيست څو په غزه کې د لوږې هغه کچه وساتي چې دوی ته مناسبه ښکاري. د بشري حقونو په اړه د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي وويل چې د دې په پايله کې غزه په دې سيمه کې د ۲،۲ مليونه اوسېدونکو لپاره په يوه «سر خلاصي زندان» بدله شوې.

د غزې ۷۵ کلنه جګړه تر دې لا اوږده زمينه هم لري. د دې اوږدې يا پراخې زمينې مهم عناصر په ۱۸۹۷ کې د صهيونيستي خوځښت تاسيس؛ په ۱۹۱۷ کې د بريتانيا لخوا د دغه خوځښت د رسمي ملاتړ پرېکړه او په ۱۹۴۸ کې د اسرايلي دولت تر تاسيس وروسته له دغه دولت څخه د امريکا د ملاتړ پرېکړه ده.

صهيونيستي خوځښت په ۱۸۹۷ کې د اتريش په ويانا ښار کې د لومړي نړيوال صهيونيستي کانګرس پر مهال تاسيس شو. د دغه کانګرس محرکه قوه تيودور هرتزل و. هغه په ۱۸۸۰ کې د هنګري په بوداپست کې د منځني پوړ يهودي کورنۍ کې زيږېدلی. د هرتزل شخصي ژوند د هغه يهوديت ضد فکر لخوا اغېزمن شوی چې هغه وخت په اروپا کې عام و؛ ځکه خو وپارېده چې دې ستونزې ته يوه حللاره ولټوي. هرتزل بېلابېل انتخابونه له فکري اړخه وارزول. هغه په اروپايي ټولنو کې د يهودو جذب يوه حللاره ګڼله؛ خو دې پايلې ته ورسېد چې دی پخپله –چې يو ډېر لوستی، نا مذهبي او سيکولر يهود و – د دغه يهودي ضد فکر له تجربې خوندي نه و، نو د ستونزې د حل لپاره په اروپايي ټولنو کې د يهودو جذب ته ريښتينې هيله نشته. ده همداراز پر دې انتخاب غور وکړ چې په اروپا کې د حاکمو اشرافو پر وړاندې انقلاب وشي چې له سره نوې ټولنې جوړې شي؛ خو دې پايلې ته ورسېد چې دا به خبره نوره هم خرابه کړي. په ورته وخت کې يې د يهودو مسيحي کېدل د ستونزې ناسم حل وباله، ځکه ده ويل چې له دې سره يهودي هويت له منځه ځي. کومه حللاره چې هرتزل تر نورو ډېر تمايل ورته درلود، هغه يهودي نشنليزم، يا صهيونېزم و چې د يهودو لپاره يې د يوه ملي هيواد وړانديز کاوه.

د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال بریتانیې له صهیونیستي خوځښت سره اړیکه ونیوله. بریتانیې وېره لرله چې المان به له عثماني خلافت سره د نږدې اړیکو له لارې پر منځني ختیځ واک ترلاسه کړي. دا به هند او اسیا ته د برېتانیې لاسرسی پرې کړي. ځکه خو برېتانیې پلانونه جوړ کړل چې پر منځني ختیځ یې واک باوري کړي. دا فکر ورسره و چې په هغې سیمه، چې اوس عراق او ایران دي، پوځي برید وکړي؛ خو باور یې درلود چې د عربو جزیرې له قبایلو سره داسې اړیکې لري چې له لارې یې د دغې سیمې چارې کنټرولولی شي. دلته د بریتانیې له نظره فلسطین یوه ستونزه وه؛ ځکه چې فلسطین د سویس کانال له ختیځې څنډې سره پوله درلوده او له مصر تر هند پورې ځمکنی پل یې اشغال کړی. د بریتانیې په یوه دولتي یادښت کې د ۱۹۱۷م کال د اپریل په ۱۱مه لیکل شوي: «پر فلسطین د المان کنټرول له سترو خطرونو دی چې ښایي په راتلونکي کې د بریتانیې امپراتوري ورسره مخ شي».

د فلسطین لپاره د بریتانیې پلان دا و چې له صهیونېستو یهوده جوړه یوه وسله‌واله ډله جوړه کړي چې په سیمه کې د عثمانیانو پر وړاندې وجګېږي او په دې توګه د بریتانیې په استازیتوب سیمه کنټرول کړي. د دې لپاره د بریتانیې حکومت په بریتانیه کې د صهیونیستي خوځښت له استازي، چیم ویزمن سره اړیکه ونیوله. هغه په ۱۸۷۴م کال کې د روسیې په مېنسک کې په یوه یهودي کورنۍ کې زیږېدلی و، خو په ۱۹۰۴ کې یې بریتانیې ته کډه کړې وه؛ فکر یې کاوه چې په بریتانیه کې به د اشرافو په منځ کې د صهیونیستي ارمان لپاره ملاتړ پیدا کړي. هرتزل په دې اړه مشخص ځای نه و په نښه کړی چې د یهودو هېواد دې دقیقاً چېرته وي، خو ویزمن ویل چې باید په فلسطین کې وي. ویزمن له بریتانوي دولت، په ځانګړې توګه مارک سایکس سره په بحثونو کې له بریتانیې وغوښتل چې رسماً په فلسطین کې له صهیونیستي پروژې څخه خپل ملاتړ اعلان کړي. په لومړیو کې بریتانیې په دې کار کې تردید درلود. خو کله چې پوه شوه چې فرانسې – چې هغې هم په فلسطین کې استعماري هیلې لرلې- له صهیونیستي خوځښته مبهم ملاتړ کړی، پرېکړه یې وکړه چې ښکاره او قوي ملاتړ یې اعلان کړي. نو د بریتانیې حکومت د ځینو یهودو غړو له نیوکې سره سره د ۱۹۱۷م کال د نومبر په ۲مه بالفور اعلامیه خپره کړه؛ د بریتانیې حکومت دننه مخالفو یهودیانو له ډلې یې یو د هند لپاره د بهرنیو چارو وزیر، ایډوین مونټیګو او دغه راز هربټ سمویل او روفوس ایساکس وو؛ دوی د صهیونېزم خلاف وو، ځکه وېره یې درلوده چې دا به برېتانیې ته د دوی د ژمنتیا په اړه خلک شکمن کړي. په دغې اعلامیه کې، چې په فلسطین کې له بریتانیې څخه د صهیونیستي خوځښت د ملاتړ په موخه جوړه شوې وه، راغلي: «د اعلیحضرت دولت په فلسطین کې د یهودو لپاره د ملي کور جوړولو په اړه مثبت نظر لري او خپله ټوله هڅه به وکړي چې دغې موخې ته رسېدل اسانه شي». د بالفور اعلامیه د تش په نوم یهودي لښکر (Jewish Legion) د رامنځه کېدو سبب شوه؛ دا ۵۰۰۰ زره کسیزه پوځ و چې بریتانیې په فلسطین کې له عثمانیانو سره د جګړې لپاره را استولی و. په دغه لښکر کې یوه یهودي مشر، ولادیمیر ژابوتینسکي په خپلو یادښتونو کې لیکلي چې د دغه ۵۰۰۰ کسیز لښکر ترکیب داسې و: «۳۴ سلنه یې

امریکایان وو؛ ۳۰ سلنه یې د فلسطین؛ ۲۸ سلنه یې د انګلستان؛ ٦ سلنه یې د کاناډا او یو سلنه یې د عثمانیانو جنګي ارجنټایني اسیران وو».

د دویمې نړیوالې جګړې په پای کې امریکا د غربي نیمې کرې پر لومړې جیوپولیټیک قدرت بدله شوه. د دغه هیواد د بهرني سیاست مخکښان دوو نظرونو ته تمایل درلود. یو دا چې د منځني ختیځ د نفتو د تامین لپاره امریکا باید فلسطین ته یوه داسې حللاره پیدا کړي چې عربان را ونه پاروي؛ د دې لپاره باید د «دوو هېوادونو حللارې» لپاره هڅه وکړي. بل نظر دا و چې له شوروي اتحاد سره د مبارزې لپاره به امریکا په منځني ختیځ کې یو داسې ملګری ولري چې بشپړ غربي لید ولري؛ ځکه خو باید په فلسطین کې د یوه یهودي هیواد د جوړولو ملاتړ وکړي. په پای کې دویم نظر بحث وګاټه؛ دا د دې سبب شو چې ولسمشر هري ټرومن د ۱۹۴۸م کال د مې په ۱۴مه، د اسرایلو دولت تر اعلان ۱۱ دقیقې وروسته دغه دولت په رسمیت وپېژني. په لومړیو کې له اسرایلو د امریکا عملي ملاتړ محدود و؛ ځکه چې له بریتانیې سره د اسرایلو د سیاسي مشرانو نیږدېوالی د امریکا نه خوښېده؛ دا په ۱۹۵٦ کې د سویس کانال ملي کولو په سبب پر مصر د بریتانیې، فرانسې او اسرایلو د ګډ برید پر مهال ثابته شوه. خو کله چې په ۱۹٦۲ کې ولسمشر جان اف کېنېډي پرېکړه وکړه چې پر اسرایلو هاوک توغندي وپلوري، دا وضعیت بدل شو. د دغو توغندیو د پلور تر شا موخه دا وه چې امریکا به د پرمختللي پوځي ملاتړ له لارې د اسرایلو سیاسي مشران خپل کمپ ته راولي او هڅوی به د منځني ختیځ لپاره د امریکا د کمونیزم ضد لید ملاتړ وکړي. دا لید چې اسرایل د امریکا د جیوپولیټیکي ستراټیژیو لپاره ګټور دی، د دواړو هیوادونو د اړیکو د اساس په توګه پاتې شو او تر اوسه پر خپل حال دی؛ یوازې دا بدلون پکې راغلی چې د کمونیزم تر راپرځېدو وروسته اسرایل د امریکا د «ترهګرۍ پر وړاندې جګړه» کې د دغه هیواد لپاره د منځني ختیځ ملګری دی. دا څرګندوي چې په ۲۰۱۷ کې د اسرایلو ولسمشر، بنیامین نتنیاهو ولې خپل دولت په منځني ختیځ کې د امریکا د «ځواکمنې الوتکې وړونکې بېړۍ» په توګه توصیف کړ.

په داسې حال کې چې بریتانیې او امریکا دواړو د خپلو جیوپولیټیکي موخو د مخته وړلو لپاره د صهیونیستي خوځښت ملاتړ وکړ؛ دواړه پوه شول چې صهیونیستي خوځښت او د اسرایلو دولت تل د باور وړ ملګری نه شي کېدی.

د بېلګې په توګه، په ۱۹۳۹ کې صهیونیستي خوځښت د فلسطین لپاره د بریتانیې حکومت د ۱۹۳۹ کال سپین کتاب کې راغلي لید سره مخالفت وکړ. کله چې بریتانیې له نازي المان سره جګړې ته ځان تیاراوه، په دې لټه کې وه چې له صهیونیستي خوځښت او د منځني ختیځ د عربو ملاتړ ترلاسه کړي. نو سپین کتاب وړاندیز وکړ چې بریتانیا به له اروپا څخه فلسطین ته د صهیونیستي یهودو دوامدارې کډوالۍ ته اجازه ورکړي، خو دا کډوالي به داسې محدوده شي چې یهود به هېڅکله د سیمې د نفوس له یو پر درېیمې برخې نه اوړي، مګر دا چې د

فلسطین عربي رهبري بل ډول توافق وکړي. پر دې سربېره سپین کتاب وړاندیز وکړ چې تر لسو کالو زیاته موده کې به بریتانیا په فلسطین کې د یوه خپلواک دولت د تاسیس پر ملاتړ کار وکړي. دغې پالیسۍ صهیونیستي خوځښت ډیر په غوسه کړ؛ دوی له دغې پالیسۍ دا پایله اخیستې وه چې بریتانیا غواړي چې دوی په فلسطین کې د دایمي لږکیو په توگه ژوند وکړي؛ دې کار عملاً دوی ته د یوه ریښتیني یهودي هیواد جوړول ناشوني کول. یهودي خوځښت د دغه اقدام په غبرگون کې په فلسطین کې د بریتانیې پر وړاندې د ترهگرۍ کمپاین پیل کړ چې په دې کې د بریتانیایي چارواکو ترور او د رسمي ودانیو بمبارۍ شاملې وې.

امریکا هم له اسرایلو سره په اړیکو کې ورته ستونزې تجربه کړې. په ۱۹٦۲ کې چې کله امریکا، له اسرایلو سره مهمه نظامي مرسته وکړه؛ شرط یې دا و چې اسرایل به یې اټومي پروگرام دروي او اجازه به ورکوي چې په ۱۹۴۸ کې عرب بېځایه شوي بېرته خپلو کورونو ته وروگرځي. اسرایلو په خوشالۍ د امریکا وسلې ومنلې؛ خو د اټومي پروگرام او فلسطیني بې ځایه شوو په اړه یې ژمنې پوره نه کړې. له هغه وخت راهیسې امریکا نه ده توانېدلې چې د اسرایلو دولت د فلسطین مسلې یا فلسطیني بې ځایه شوو په اړه د کومې حللارې ملاتړ ته اړ باسي. په ۱۹۹۳ او ۱۹۹۵ کلونو کې د اوسلو هوکړه‌لیک وړاندیز وکړ چې دا مسایل به د یوې فلسطیني ادارې، چې د اسرایلو دولت مطیع به وي، له لارې حل کړي. د اسرایلي دولت په چارواکو کې ځینو د دغه نظر ملاتړ وکړ، خو ځینو نورو رد کړ. په پایله کې، امریکا هېڅکله نه ده توانېدلې چې اسرایل د اوسلو هوکړه‌لیک له مخې د خپلو ژمنو او تعهداتو عملي کولو ته اړ باسي او اسرایلو په هغو سیمو کې د صهیونیستي ښارگوټو جوړولو ته له وقفې پرته دوام ورکړی چې د ۱۹٦۷ جگړه کې یې اشغال کړې.

### د غزې د جگړې اوسنۍ زمینه: اسیا ته د امریکا ورگرځېدل

د دویمې نړیوالې جگړې په پای کې امریکا له شوري اتحاد سره یوې جیوپولیټیکې شخړې ته ورننوته. په ۱۹۸۰ کلونو کې د شوري اتحاد او ورسره کمونېزم ایډیولوژۍ تر ړنگېدو وروسته؛ په ۱۹۹۰ کلونو کې امریکا خپل پام د بل ستر او اصلي مخالف په توگه «اسلامي بنسټپالنې» ته واړاوه. د دغه نظر اساس سمویل هنټینگټن د خپل کتاب، «د تمدنونو ټکر او د نړیوال نظم بیا جوړول» له لارې اېښی؛ د دې په پایله کې د اسلامي خاورو زړه، منځنی ختیځ د امریکا د جیوپولیټیکې سټراټیژۍ مرکز او محور شو.

پر اسلام او مسلمانانو تر ۲۰ کلن تمرکز وروسته؛ د ۲۰۱۱ کال په نومبر کې ولسمشر اوباما نوې ستره جیوپولیټیکه سټراټیژي اعلان کړه. دغې سټراټیژۍ ته د «اسیا ته ورگرځېدل» یا «اسیا خپل محور گرځول» نوم ورکړل شو او دا خبره پکې وه چې چین د امریکا د نړیوالې هژمونۍ لپاره تر ټولو ستر گواښ جوړ شوی. د دې په غبرگون کې اوباما اعلان وکړ چې امریکا به تر دې وروسته خپلې سرچینې بیا متعادلې کړي. د «اسلامي بنسټپالنې» د مدیریت

لپاره به لږې سرچینې وکارول شي او ډېرې سرچینې به په ایشیا-پسیفیک سیمه کې د چین د گواښ پر وړاندې وکارېږي.

تر کومه ځایه چې په منځني ختیځ پورې اړه لري، «اسیا ته ورگرځېدو» ځینې مهمې پایلې لرلې. اساساً امریکا باید په منځني ختیځ کې داسې وضعیت رامنځته کړی وای چې اسیا ته د سرچینو اتکل شوي لېږد ته لار برابره کړي. ځکه خو امریکا د اسراېلو دولت او منځني ختیځ هیوادونو ترمنځ رسمي تړونونو، تش په نامه ابراهیمي تړونونو ته کمپاین پیل کړ. د ۲۰۲۰ کال د اگېسټ او ډسمبر ترمنځ، څلورو اسلامي هېوادونو ومنله چې له اسراېلو سره خپلې اړیکې عادي کوي؛ متحده عربي امارات، بحرین، سوډان او مراکش. دغو «ابراهیمي تړونونو» ته د سعودي د راوستلو لپاره هم خبرې اترې روانې وې.

اسیا ته ورگرځېدو یا مخ اړولو د ایران په اړه د امریکا لید هم بدل کړ. سره له دې چې ایران د امریکا-عراق جگړه کې د امریکا مهم ملاتړ وکړ، بیا هم امریکا دغه هیواد ته د ډېر باور وړ ملگري په سترگه نه گوري. د امریکایي پوځیانو له لوري د قاسم سلیماني ترور د دې یو ثبوت دی. اسیا ته د مخ اړولو ستراتیژۍ د یوې برخې په توگه، امریکا خپلو هڅو ته دوام ورکړ چې ایران خپل مدار ته راولي او د باور وړ ملگری ترې جوړ کړي. په ځینو مواردو کې یې دا کار د ایران پر وړاندې د نرمۍ له لارې کړی؛ لکه په ۲۰۱۵ کې یې چې د ولسمشر اوباما په وخت کې له ایران سره یو رسمي تړون لاسلیک کړ. په نورو مواردو کې یې دا کار د ایران د غوړ تاوولو له لارې کړی؛ لکه ولسمشر ټرمپ چې له ایران سره دا معامله لغوه کړه. له «ابراهیمي تړونونو» راهیسې امریکا له نرمۍ کار اخیستی. د بېلگې په توگه، له امریکا سره دا توافق چې امارات او سعودي به له ایران سره بشپړې ډیپلوماټیکې اړیکې بیا پیلوي.

که څه هم د فلسطین مسله د منځني ختیځ هیوادونو د سیاسي رهبرۍ لپاره لومړیتوب نه دی؛ خو امریکا د یوې داسې مسلې په سترگه ورته گوري چې باید حل شي. لومړی دلیل یې په منځني ختیځ کې د مسلمانانو په منځ کې له اسرایلو سره د اړیکو عادي کولو مخالفین دي؛ دا اساساً د فلسطین له مسلې سره نږدې اړیکه لري. په دې توگه –د امریکا په نظر- فلسطین لا هم په ټول منځني ختیځ کې د ناخاپي بې ثباتۍ پوتانشیل لري. امریکا لا هم د اسرایلو او فلسطین ترمنځ تلپاتې سولې لپاره د ۱۹۶۷ کرښو پر بنسټ د دوو دولتونو حللاره تر ټولو غوره لار گڼي؛ امریکا په بشپړه توگه اسیا ته د ورگرځېدو لپاره دې ته اړتیا لري.

### د غزې د جگړې اوسنۍ زمینه: د اسرایلو بهرنۍ سیاست

اسرایلو په «ابراهیمي تړونونو» کې د امریکا د منځگړیتوب ډېر ملاتړ کړی. اسرایلو ته د دغو تړونونو د اقتصادي گټو سربېره؛ ډېره مهمه گټه جیوپولیټیکي ده چې د گاونډیو لخوا یې شتون په رسمیت پېژندل کېږي. سوداگریزې

او رسمي اړیکې او دغه راز نور ارتباطات د اسرایلو او په منځني ختیځ کې اسلامي هیوادونو ترمنځ د شخړو احتمال خورا ډېر راټیټوي. د دې لپاره امریکا او اسرایل ګډ کار کوي چې «ابراهیمي تړونونو» ته نور اسلامي هیوادونه هم راولي. له سعودي سره یو رسمي تړون نږدې دی او د دې ترڅنګ له موریتانیا، سومالیا، نایجر او اندونزیا سره هم خبرې اترې روانې دي.

سره له دې، اسرایلو په ۱۹٦۲ کې د هاوک توغندیو د پلور او اوسلو ۱۹۹۳-۱۹۹۵ هوکړه‌لیکونو د ژمنو په څېر د «ابراهیمي تړونونو» پر ژمنو هم عمل نه دی کړی. له ۲۰۲۰ کال راهیسې اسرایلو د فلسطین پر وړاندې خپلې پالیسۍ سختې کړې. په اشغال شوو سیمو کې د صهیونیستانو ځای پر ځای کول پراخ شوي او ځای پر ځای شوو کسانو له لوري د فلسطینیانو پر وړاندې تاوتریخوالی هم زیات شوی. اسرایلو دغه راز د یهودي اشغالګرو د مېشت کولو واحدونه په بې ساري ډول پراخ کړي او د اشغال شوو سیمو اداره یې له پوځیانو څخه ملکیانو ته سپارلې؛ له دې په ډاګه ښکاري چې اسرایل غواړي دا سیمې په ځان پورې وتړي. د لا ډېرې فلسطیني خاورې پر اشغال او الحاق سربېره، اسرایلو د فلسطینانو د وېش او کمزوري کولو سیاستونو ته هم دوام ورکړی. په ۲۰۰۵ کې له غزې څخه تر وتلو وروسته، دغه هیواد هڅه کوي چې غزه او لوېدیځه غاړه له سیاسي نظره بېلې کړي او په دغو دواړو سیمو کې سیاسي رهبري کمزوري وساتي. داسې چې د یوه فلسطیني دولت تاسیس عملاً ناشونی وي او په ورته وخت کې د فلسطین په خاوره کې د نا کنټرولېدونکي هرج و مرج مخه ونیول شي. پر دې سربېره، د منځني ختیځ لپاره د امریکا د پلان پر خلاف، اسرایل هڅه کوي چې د ایراني چارواکو د ترور، سایبري بریدونو، جاسوسۍ او امریکا کې لابیګرۍ له لارې له ایران سره د اړیکو عادي کولو هڅې کمزورې کړي. دغه راز د امریکا د دغې هیلې او غوښتنې په اړه چې سعودي «ابراهیمي تړونونو» ته راولي، اسرایلو په دې غوښتنه چې سعودي دې د اماراتو په شان ملکي هستوي پروګرام نه جوړوي، د دغو خبرو اترو د پرمختګ په لار کې خنډ جوړ کړی. د اسرایلو دغې غوښتنې د هغه توافق لپاره پرمختګ ورو کړی چې امریکا یې په خپله اوسنۍ جیوپولیټیکه ستراتیژۍ کې اصلي عنصر ګڼي.

نو که لنډ ووایو، په داسې حال کې چې د اسرایلو بهرنی سیاست عموماً له امریکا سره سم وي، په ځینو ځانګړو برخو کې چې د امریکا د جیوپولیټیکې ستراتیژۍ د پرمختګ لپاره مهمې دي، اسرایل یو خنډ دی. په دې توګه اسرایل «نوي منځني ختیځ» ته د امریکا د رسېدو په لار کې خنډ دی چې امریکا یې په پام کې لري او اسیا ته یې ورګرځېدل عملاً شوني کوي.

## د اکتوبر تر ۷مې وړاندې د امریکا-اسرایلو اړیکې

د اسرایلو له بهرني سیاسته د امریکا نارضایتي د ټرمپ اوبایډن دواړو لخوا په ډاګه شوه. ولسمشر ټرمپ وویل چې د اسرایلو لومړی وزیر، بنیامین نتنیاهو د فلسطین د لومړي وزیر، محمود عباس په پرتله د سولې په لار کې ستر

خنډ و؛ ده ویلي وو چې نتنیاهو هېڅکله له فلسطینیانو سره «سوله نه غوښتله». د دودیزو تشریفاتو پر خلاف، ولسمشر بایډن په ۲۰۲۱ کې واک ته د رسېدو په لومړۍ اونۍ کې رابللو بهرنیو رهبرانو له لېست څخه د نتنیاهو نوم لرې کړ. بایډن بل ځل د چین، هند، روسیې او سعودي له رهبرانو سره تر لیدنې وړاندې له نتنیاهو سره لیدنه رد کړه. بلاخره چې بایډن او نتنیاهو د ۲۰۲۱ کال په سپټمبر کې، په نیو یارک کې د ملګرو ملتونو د غونډې په څنډه کې سره ولیدل؛ نتنیاهو یې ۳۰ دقیقې په تمه کړ او تر لیدنې وروسته خبري کنفرانس کې یې تمرکز په «ابراهیمي تړونونو» کې د اسراییل پر لوري، په ځانګړي ډول د فلسطینیانو پر وړاندې د اسراییلو پر تعهداتو و. د راپورونو له مخې، له اسراییلو څخه د امریکا د خپګان نور دلایل دا وو چې اسراییل هڅه کوي له ایران سره د اړیکو عادي کولو په اړه د امریکا د پلان په لار کې خنډونه جوړ کړي.

له هغه وخت راهیسې، د اسراییلو سیاست داسې لوري ته بدلون نه دی کړی چې ډېر یې له امریکا سره همغږی کړي. په حقیقت کې د دې برعکس شوي. د ۲۰۲۲ کال په ډسمبر کې، د اسراییلو لومړي وزیر، نتنیاهو یو نوی حکومت تشکیل کړ چې د اسراییلو په تاریخ کې تر ټولو ډېر «ښي اړخی» حکومت بلل کېږي؛ له داسې ګوندونو جوړ دی چې خورا ډېر مذهبي محافظه کاره، شفاف یهودي قومي-ملي‌پاله او صراحتاً عرب ضد نژادپاله دي. د هغو سیاسي موخو له ډلې چې دغه ایتلاف توافق پرې کړی؛ د لوېدیځې غاړې الحاق، د اسراییلو د قضایه قوې- چې د دوی په اند د لوی اسراییل اجنډا پر وړاندې خنډ ده- کمزوري کول او د اسراییلو مذهبي یهودي کرکټر پیاوړي کول دي. امریکا د اسراییلو د سیاست له دغه لوري نیولو سره مخالف وښود او پر نتنیاهو یې فشار راوړ چې دا مسیر بدل کړي؛ خو داسې معنی لرونکی اغېز یې نه درلود.

که لنډ ووایو، د امریکا او اسراییلو ترمنځ اړیکې په خپل تاریخ کې تر ټولو ټیټه کچه کې وې؛ ځکه چې اسراییلو د لومړي وزیر نتنیاهو تر مشرۍ لاندې داسې پالیسي غوره کړې چې د منځني ختیځ لپاره د امریکا له پلان سره ټکر لري.

**د اکتوبر ۷مه**

اوس ټولو ته ښکاره ده چې اسراییلي چارواکي د حماس د اکتوبر ۷مې برید له پلان څخه تر یوه کال وړاندې خبر وو. پر دې سربېره، د اسراییلو د پولو ساتونکو ځواکونو څو ځله خبرداری ورکړی و چې حماس د دغه پلان پر بنسټ روزنیز تمرینونه کوي. د دې تر څنګ، اسراییلي استخباراتو په وار وار اسراییلو ته خبرداری ورکړی و چې «یو لوی کار» کېدونکی دی.

دا چې حماس څنګه دا کار وکولی شو؛ درې نظرونه دي:

لومړی نظر وايي چې د اکتوبر ۷مې پېښه یوه «استخباراتي ناکامي» وه. یوه بده، خو صادقانه تېروتنه. دا نظر وايي چې اسرایلو د حماس وړتیاوو ته په کمه سترگه کتلي وو؛ ځکه خو يې چې د برید د پلان او تیاري په اړه اطلاعات اورېدل، د تعصب له مخې يې ويل چې حماس د داسې کار کولو وړتیا نه لري. دغه نظر همدا راز وايي چې اسرایلو د خپلو پولو پر امنيتي سيستم تر حد زيات باور درلود. له غزې سره د اسرایلو پوله «د اوسپنیز دیوال» په نامه مشهوره وه؛ ٦ فوټه لوړ غبرگ دیوال چې اغزن سیم وربانديې دی، کمرې او پرمختللي سینسرونه لري، د تونلونو د مخنیوي لپاره کانکریټي تهداب ورکړل شوی او له لرې لارې کنټرولېدونکې درنې وسلې (دشکې) پکې نصب دي. دا نظر وايي چې تر حد زيات باور په پایله کې اسرایلو استخباراتي خبرداري په پام کې ونه نیول.

دویم نظر وايي چې د نتنیاهو حکومت د حماس له پلانه خبر و، خو قصداً يې پرېښودل چې پلان پلی کړي. دا نظر پر لومړي نظر نيوکه کوي چې دا کار د معیاري نظامي عملياتي پروسيجرونو خلاف دی. معیاري نظامي عملياتي پروسيجرونه تل تر ټولو ناوړه حالت فرضوي. که دوی د برید د پلان په اړه مفصل معلومات ترلاسه کړي وای، پر پوله به يې امنيتي تدابير لا زيات کړي وای. که د دغه پلان لومړنۍ ارزونه داسې وای چې دا «د اعتبار وړ نه دی» او د امنیت زیاتولو ته اړتیا نشته؛ نو په دې کې هېڅ شک نشته چې د هغوی د تیاري له لیدلو سره هرو مرو بیا ارزونه او ورپسې د امنيتي تدابيرو د زیاتولو امر کېده. بلاخره، د معیاري نظامي عملياتي پروسيجرونو له مخې د یوه متحد له لوري ځانگړي خبرداري –ان که يې معلومات مفصل نه وي هم- د دې سبب کېږي چې امنيتي تدابير زيات شي. دا چې د اسرایلو استخبارات او دفاعي ځواک ډېر مسلکي دي، د اکتوبر د ۷مې پېښه داسې بیانولی شو چې دا د امنيتي او دفاعي کړیو د لوړپوړو چارواکو ترمنځ شعوري پرېکړه وه چې اجازه ورکړي.

دویم نظر استدلال کوي چې د نتنیاهو حکومت د اکتوبر د ۷مې پېښې ته د اجازې ورکولو اصلي منشا ده؛ ځکه دا کېدی شي پر غزې د یوه پراخ او اوږدمهاله پلان شوي برید لپاره پلمه شي چې له دغې سیمې يې خلک وشړي او له اسرایلو سره يې وتړي.

درېیم نظر له دویم نظر سره موافق دی چې د اکتوبر د ۷مې پېښه احتمالاً «استخباراتي ناکامي» نه شي کېدی. ځکه چې په یوه لړۍ کې ډېرې زياتې «تېروتنې» وشوې چې د معیاري نظامي عملياتي پروسيجرونو له مخې په اسانۍ نه شي پېښېدای. خو درېیم نظر استدلال کوي چې دغې پېښې ته د اجازې ورکولو منشا په ډېر احتمال د نتنیاهو دولت نه و؛ لومړی په دې دلیل چې دا پېښه د نتنیاهو او د هغه د دولت لپاره ستر شرم و. مصريانو رسنيو ته ويلي چې د دوی د استخباراتو وزیر، جنرال عباس کمال شخصاً تر برید لس ورځې وړاندې نتنیاهو ته زنگ وهلی و او خبرداری يې ورکړی و چې د غزې خلک ښايي «یو نامعمولي او وحشتناک کار» وکړي. نتنیاهو پخپله د دې خبرې په افشا کېدو ډېر وشرمېده چې د ده په امر له هغو درېیو کنډکونو چې له غزې تر لوېدیځې غاړې پورې پوله ساتي، دوه يې هلته د صهیونیستي ځای پر ځای شوو د مذهبي جشن امنيت وساتي او دا چې

اسرايلي پوځ پر وخت او مناسبه توګه د حماس د برید پر وړاندې غبرګون ونه شو ښودلی. د اکتوبر د ۷مې پېښې په پایله کې، له اټکل سره سم نتنیاهو او دولت یې تر ډېر فشار لاندې و چې د بې کفایتۍ په سبب استعفا ورکړي.

درېیم نظر چې ځینو اسرايلي لوړپوړو چارواکو د اکتوبر ۷مې پېښې ته اجازه ورکړې چې پر نتنیاهو او دولت یې فشار راوړي؛ له دې سره ډېر قوت پیدا کوي چې اسرايلي مخالفو ګوندونو د پېښې پر وړاندې ډېر چټک او همغږی غبرګون وښود. په داسې حال کې چې د اسرایلو له پوځ څخه لار ورکه وه، د اسرایلو اصلي مخالف سیاسیون، یائیر لاپیډ له وړاندې د وړاندې تګ لپاره یوې د سیاسي لارې پلان ابلاغ کړی و. دا ښکاره ده چې لاپیډ د نتنیاهو په پرتله د منځني ختیځ لپاره د امریکا جیوپولیټیکه ستراتیژي ډېره مني. دا له دې په ډاګه کېږي چې تر نتنیاهو وړاندې لاپیډ واشنګټن ته بلل شوی و چې د بایډن له تر ټولو نیږدې سلاکار سره وګوري. د راپورونو له مخې، د دغې لیدنې پر مهال امریکا له لاپیډ څخه غوښتي وو چې له نتنیاهو سره کار وکړي او دا ډاډه کړي چې د نتنیاهو دولت له فلسطینیانو او سعودي سره د اسرایلو د اړیکو عادي کولو په اړه د امریکا له پلان سره سم مخته لاړ شي. د لاپیډ د اکتوبر ۷مې پلان کې د ملي دولت لپاره غوښتنه شامله وه؛ په دې شرط چې نتنیاهو له خپل حکومت څخه ښي اړخي افراطي ګوندونه لرې کړي چې له فلسطینیانو سره د اړیکو عادي کولو مخالف دي. دا ښيي چې د اسرایلو اپوزیسیون تیار و چې د اکتوبر د ۷مې له پېښې د دې لپاره ګټه واخلي چې نتنیاهو د هغه کار کولو ته اړ باسي چې د امریکا جیوپولیټیک پلانونه یې ترې غواړي.

**د اکتوبر ۷مې ته د امریکا غبرګون**

پورتنی تحلیل اساساً دا وايي چې امریکا له دې خبره وه چې حماس د اکتوبر په ۷مه څه کوي او د اسرایلو له ځینو سیاسي او پوځي چارواکو سره یې کار کړی چې دغه پلانونه بریالي شي؛ دوی غوښتل د اکتوبر د ۷مې پېښې له لارې نتنیاهو وشرموي او د دې تر څنګ دی او حکومت یې اړباسي چې د امریکا له جیوپولیټیکو پلانونو سره سم مخته لاړ شي.

د اکتوبر ۷مې پېښې ته د امریکا غبرګون دا تحلیل پیاوړی کوي. په داسې حال کې چې دغه هیواد له اسرایلو څخه نظامي او لفظي ملاتړ وکړ؛ په دوامداره توګه یې د پورته تشریح شوې امریکایي جیوپولیټیکي ستراتیژۍ پر بنسټ د یوه ځانګړي اسرايلي غبرګون غوښتنه کړې.

د بېلګې په توګه، دا چې د اسرایلو دولت غوښتل د غزې خلک مصر ته وشړي او ان له مصر سره یې اړیکه ونیوله چې په دې اړه خبرې ورسره وکړي، بایډن د مصر له ولسمشر، سیسي سره خبرې وکړې تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې مصر دا نظر ردوي.

دغه راز، امریکا په دوامداره توګه د اسرایلو دولت د نظامي پلانونو پر ضد خبرې کړې. دا چې اسرایلو د خپل دغه نظر لپاره ملاتړ ترلاسه نه شو کړی چې د غزې خلک ځای پر ځای کړي؛ د اسرایلو د نظامي پلانونو تر شا موخه دې ته بدله شوه چې په غزه کې ژوند کول ناشونی کړي او په دې لړ کې یې فلسطینیان له خورا زیات رنځ او درد سره مخ کړل. دا له دې په ډاګه کېږي چې اسرایلو د غزې پر خلکو خوراکي توکي، بریښنا او اوبه پرې کړې؛ دا جمعي سزاوې دي چې د نړیوالو قوانینو له مخې جنګي جنایتونه ګڼل کېږي؛ نا هدایت شوي «ګونګي» بمونه یې وکارول چې د غزې غونډې ګڼ نفوسه سیمه کې د ملکي وګړو د ډېرو زیاتو تلفاتو سبب شول، ودانۍ او بنسټونه یې ونړول؛ ډول ډول وسلې یې وکارولې او په غزه کې یې دومره ویجاړۍ وکړې چې المان په دویمه نړیواله جګړه کې نه دي تجربه کړې. امریکا هېڅ ځای د دغو کړونو لفظي ملاتړ نه دی کړی. بلکې په دوامداره توګه یې پر اسرایلو غږ کړی چې له یوې بلې نظامي تګلارې کار واخلي چې د ملکیانو تلفات کم کړي او خبرداری ورکوي چې د اسرایلو نظامي تګلاره به د دغه هیواد د ستراتیژیکې ماتې سبب شي؛ ځکه له دې کار سره نړیوال ملاتړ له لاسه ورکوي.

په داسې حال کې چې امریکا پر اسرایلو نیوکه کړې او په ځینو ځایونو کې د اسرایلو دولت د پلانونو مخه نیولې؛ په وار وار یې هغه څه هم بیان کړي چې د دوی په باور اسرایل یې باید د بدیل په توګه وکړي. امریکا پر اسرایلو فشار راوړي چې بلاخره د دوو دولتونو حللاره -چې له ډېر وخت راهیسې د امریکا نظر و- ومني. دغه راز یې له فلسطیني ادارې سره کار کړی چې د جوړېدونکي متحد فلسطیني دولت د رهبرۍ لپاره یې هم له سیاسي او هم امنیتي نظره تیار کړي.

**پایله**

د غزې د جګړې له دغه جیوپولیتیک تحلیل څخه دې پایلې ته رسېږو چې امریکا د اکتوبر په ۷مه د حماس د برید له پلان څخه خبره وه او د اسرایلو له ځینو پوځي او سیاسي عناصرو سره یې کار وکړ چې دا پلان بریالی شي. د امریکا موخه دا وه چې د اکتوبر له ۷مې پېښې څخه پر نتنیاهو د فشار راوړلو لپاره ګټه واخلي چې د منځني ختیځ لپاره د امریکا له جیوپولیټیکې ستراتېژۍ سره سم عمل وکړي؛ د دې لپاره باید له سعودي او فلسطینیانو سره رسمي موافقو ته غاړه کېږي. په دې کې هېڅ شک نشته چې امریکا له دې هم خبره وه چې دغه پلان به اسرایلي او فلسطیني لورو ته څومره تلفات واړوي. خو تاریخ د دې شاهد دی چې کله د جیوپولیټیکې ستراتیژۍ خبره وي، د نورو تلفات په پرېکړه کولو کې کوم رول نه لري.

تر اوسه امریکا له نتنیاهو څخه د هغه څه په ترلاسه کولو نه ده بریالۍ شوې چې غواړي یې. په حقیقت کې هغه علناً او صراحتاً د امریکا پلان رد کړی.

د دغه تحلیل د ننګولو لپاره ښایي دا پوښتنې وشي چې:

- که امریکا د اکتوبر د ۷مې پېښې ته د اسرایلو د غبرګون مخالفه ده، ولې یې له پیله تر اوسه ملاتړ کړی؟

- امریکا ولې تر اوسه اسرایلو ته وسلې ورکوي؟

- امریکا ولې مدیترانې ته خپل سمندري ځواکونه استولي چې د اسرایلو مرسته او پوښښ وکړي؟

- امریکا ولې د اوربند لپاره د ملګرو ملتونو پرېکړه‌لیک رد کړ؟

- که امریکا له اسرایلو څه غواړي، ولې له زوره کار نه اخلي؟ له نورو هېوادونو سره خو په منظمه توګه همداسې کوي.

دا چې دا پوښتنې طبیعي او با اعتباره دي؛ دلته یې ځوابوو:

لومړی؛ امریکا اسرایلو ته اجازه ورکړه او ان مرسته یې ورسره وکړه چې پر غزه نظامي برید وکړي؛ ځکه چې د منځني ختیځ لپاره د امریکا جیوپولیټیکه سټراټیژي ایجابوي چې اسرایل «پر خپلو ګاونډیانو د نظامي لوړوالي» تصویر ولري. له دغه تصویر او د دغه تصور د ملاتړ لپاره له نظامي ځواک پرته امریکا ته ناشونې کېږي چې په منځني ختیځ کې موجود وضعیت په دایمي واقعیت بدل کړي. په منځني ختیځ کې د صهیونیستي اشغال پر وړاندې کرکه دومره زیاته ده چې که د اسرایلو لخوا کمزوري محسوسه شي؛ په منځني ختیځ کې خلک پر حاکمو رژیمونو فشار راوړي چې په فلسطین کې صهیونیستي اشغال ختم کړي.

دویم؛ پورتني ملاحظات د دې یو دلیل دی چې امریکا ولې ځان «د اسرایلو د ملاتړ او ساتلو لپاره عزم کې تزلزل نه کوونکی» ښیي؛ ځکه چې دا «پر ګاونډیو د اسرایلو د نظامي لوړوالي او برترۍ» تصویر پیاوړی کوي. همدا دلیل دی چې امریکا د اسرایلو پوځ ته وسلې ورکوي او معمولاً په ملګرو ملتونو کې د اسرایلو ضد پرېکړه‌لیکونو د هڅو مخه نیسي. دغه راز همدا دلیل دی چې امریکا د اکتوبر ۷مې پېښې په غبرګون کې مدیترانې ته خپل سمندري ځواک را استولی چې د غزې په جګړه کې د اسرایلو پوښښ او ساتنه وکړي.

دریيم؛ د اسرایلو د ساتنې او پوښښ لپاره مدیترانې ته د امریکا د سمندري ځواک را استولو بل دلیل دا و چې د امریکا جیوپولیټیکه سټراټیژي په منځني ختیځ کې ثبات ته اړتیا لري. په دې توګه امریکا نه غواړي چې د غزې جګړه په افقي توګه شدیده شي او د څو هېوادونو په ګډون په یوه سیمه‌ایزه جګړه بدله شي.

څلورم؛ د امریکا او اسرایلو اړیکه له نورو هېوادونو سره د امریکا له اړیکې سره توپیر لري. له ډېرو هېوادونو سره امریکا د بادار-غلام چلند کولی شي؛ دیکتاتوري کولی شي او غوښتنې ترې کولی شي او هېڅ ډول شاتګ ته یې نه پرېږدي. په پاکستان کې د عمران خان تجربې دا ثابته کړه چې که یو سیاستوال شاتګ وکړي، څه ورسره کېږي. خو کله چې خبره د اسرایلو کېږي، پر دې پوهېدل اړین دي چې په امریکا کې فوق العاده با نفوذه او اړوده تاریخ لرونکې «اسرایلي لابي» شته. تحلیلونو ښودلې چې دغې لابي په بېلابېلو مواردو کې امریکا اړ ایستلې چې د اسرایلو د دفاع او ملاتړ لپاره د خپلو ګټو خلاف کار وکړي. ښکاره شواهد شته چې په غزه کې د اسرایلو په روانه جګړه کې دغه لابي امریکا په خپل غبرګون کې محدودوي او د نتنیاهو د دولت د پلانونو پر وړاندې پیاوړې دریځ نیولو مخه یې نیسي. د دې ثبوت دا دی چې د امریکا بهرنیو چارو وزارت سره له دې چې پوهېږي چې د اسرایلو بې قید او شرطه ملاتړ په نړۍ، په ځانګړي ډول د مسلمانانو په منځ کې د امریکا تصویر ته سخت زیان رسوي؛ د دې پر ځای چې یو داسې مسیر تنظیم کړي چې د امریکا نرم قدرت پکې وساتل شي، پر دې یې کار کړی چې د خپلو ډیپلوماټانو، ملکي وګړو او نورو کارکوونکو پر وړاندې له دغو پېښو راپیدا کېدونکې غوسه وځپي. دغه راز، بایډن په ۲۰۲۴ کې د ټولټاکنو کمپاین ته تیاری نیسي او دا یې د اسرایلو پر شا کولو کې سخت محدودوي؛ ځکه چې دا چاره به یې د اسرایلي لابۍ لخوا په کمپاین کې د ده پر ضد وکارېږي.

د پورتنیو مواردو په پایله کې، زموږ اټکل دا دی چې امریکا به خپلې موخې ته ونه شي رسېدی. اسرایل به خپل مقاومت ته دوام ورکړي، خپلو ګټو او پلانونو-چې د «لوی اسرایل» د لید پر محور را څرخي او دا لید یې د هغې جیوپولیټیکې سټراټیژۍ اساس دی چې له پیدایښت راهیسې ورسره وه- ته به ترجیح ورکوي. پایله به یې دا کېږي چې اسرایل به، هم په غزه او هم لوېدیځه غاړه کې، د فلسطین د خلکو پر وړاندې خپلو بریدونو او جنایتونو ته دوام ورکوي.

دا به تر هغه دوام کوي چې څو اسلامي امت د خپل دین له حکم سره سم او د خپل خالق په خدمت کې د بشریت د دفاع لپاره راپورته نه شي او د صهیونیستي استعماري پروژې د جنایتونو د پای ته رسولو لپاره خپلې سرچینې او قدرت یو ځای نه کړي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**عدنان خان**